دافغانستان اسلامي جمهوریت

دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

## دغله جاتواوریښه لرونکو نباتاتو داحتیاطي زیرمومقرره

## مقررهٔ ذخایراحتیاطی غله جات ونباتات ریشه دار

دخپرېدونېټه:د۱۳۸۸ هـ.ش کال د تلی دمیاشتې(۲۵)

پرله پسې نمبر:(۹۹۸)

تاریخ نشر: (۲۵)میزان سال ۱۳۸۸ هـ . ش

نمبر مسلسل: (۹۹۸)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــي وزارت |
| مسئول چلوونکی: | حیدر "محقق" |
| | ۰۷۰۰۰۸۸۱۲۸ |
| د دفتر تیلفون: | ۲۱۰۳۳۷۵ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمم محمدجان | ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره: (۲۰) افغانی

تیراژ چاپ اول: (۴۰۰۰) جلد

آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباطعامه، چهارراهی پشتونستان کابل

## د غله جاتو او ريښې لرونکونباتاتو د احتياطي زيرمو دمقررې د انــفاذ په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو د شورې مصوبه

ګڼه: (۲۹)

تاريخ: ۲۰/ ۷ /۱۳۸۸

د غله جاتو او ريښې لرونکو نباتاتو د احتياطي زيرمو مقرره چې پــه (۴) فصلونو او (١٦) مادو کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانــو د شورې لخوا په تصويب رسيدلې دی، منظوروم.

دغه مصوبه د مقررې سره يوځای په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذيږي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

## مصوبهٔ شورای وزيران جـــمهوری اسلامی افغانســـتان،دربارهٔ انفــاذ مقـــررهٔ ذخـــايـــر احـــتياطی غله جات ونباتات ريشه دار

شماره:(۲۹)

تاريخ: ۱۳۸۸/۷/۲۰

مقررهٔ ذخاير احتياطی غلــه جــات ونباتـــات ريـــشه دارکـــه بـــداخل (۴) فصل و (١٦) مـــاده از طـــرف شورای وزيران جمهـــوری اســـلامی افغانستان به تصويب رسيده اســـت، منظور می دارم.

اين مصوبه همـــراه بـــا مقـــرره از تـــاريخ نـــشر درجريـــدهٔ رســـمی نافذ می گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررۀ ذخایر احتیاطی غله جات و نبا تات ریشه دار

### فصل اول

### احکام عمومی

| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ اول: | منظور وضع........................................ | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف............................................ | ۱ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات........................................ | ۲ |
| مادۀ چهارم: | سروی زراعتی...................................... | ۴ |
| مادۀ پنجم : | مرجع تطبیق....................................... | ۴ |

### فصل دوم

### ایجاد ذخایر احتیاطی و استفاده از آن

| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ ششم: | ایجاد ذخایر....................................... | ۵ |
| مادۀ هفتم: | استفاده از ذخایر.................................. | ۶ |
| مادۀ هشتم: | میعاد استفاده از ذخایر............................ | ۷ |

**مادۀ نهم: تقدم و تأخیر ذخایر..............................۸**
**مادۀ دهم: حفاظت صحی ذخایر..............................۸**
**مادۀ یازدهم: احیای مجدد و اعمار سیلوها.......................۸**

## فصل سوم

## تدارک غله جات

**مادۀ دوازدهم: تدارک وجوه مالی..................................۹**
**مادۀ سیزدهم: تدارک غله جات....................................۹**

## فصل چهارم

## احکام نهایی

**مادۀ چهاردهم: تأمین امنیت ذخایر احتیاطی.......................۱۰**
**مادۀ پانزدهم: وضع طرزالعمل ها..............................۱۰**
**مادۀ شانزدهم: انفاذ..........................................۱۰**

بسم الله الرحمن الرحيم

## دغله جاتو او ريښه لرونکو نباتاتو داحتياطي زيرمو مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضع کيدو منظور**

**لومړۍ ماده :**

دغه مقرره دهېواد په کچه د غله جاتو داحتياطي زيرمو دجوړولو دډول او په هغو پورې دنورو اړوندو چارو په منظور وضع شوې ده .

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

د دي مقررې موخې عبارت دي له :

۱- غله جاتو ته د اړتياوو اود هغو دتوليد د مقدار داحصا ئيوي ارقامو تحليل، ارزونه، توحيدول اوتثبيت.

۲- دکمبود په وخت کې د

## مقررهٔ ذخاير احتياطی غله جات ونباتات ريشه دار

## فصل اول

## احکام عمومی

**منظور وضع**

**مادهٔ اول:**

اين مقرره به منظور طرز ايجاد ذخاير احتياطی غله جات وساير امور مربوط به آن درسطح کشور وضع گرديده است .

**اهداف**

**مادهٔ دوم :**

اهداف اين مقرره عبارت اند از:

۱- تحليل، ارزيابی، توحيد وتثبيت ارقام احصائيوی نيازمنديها به غله جات ومقدار توليد آن .

۲- جلوگيری از صعود

غله جاتو دبیولـه لوړیـدو څخـه مخنیوی.

۳- د هېواد په کچه اړتیاوو ته په پام سره د زیانمنو سـیلوګانو بیـارغول او د نـوو سـیلوګانو او ګرځنـدو او ثـابتو ګـدامونو ودانـول او سمبالول .

۴- لـه هېـواد څخـه بهرتـه د غله جاتودغیر مجاز لیږد مخنیوی.

۵- دبزګرانو دمالي ستې پیاوړتیا او هڅـول اود مـازادو محـصولاتو دپیرودنې له لارې دمارکېټ پرمختیا.

## اصطلاحګانې

**درېیمه ماده :**

پدې مقرره کې لاندې اصطلاحګانې دغه مفاهیم افاده کوي:

۱- غله جــات : یومــشیمه او دوه مشیمه یې حبوبــات لکــه غــنم، اوربشې، جودر، جــوار، وریجــې، باقلي، لوبیا، مشنګ، ږدن او هغوته ورته دي چې دانساني یـا حیـواني خوړو په توګه تر ګټې اخستنې لاندې

قــیم غلــه جـــات درموقـــع کمبود.

۳- احیای مجدد سیلو های آسیب رسیده و اعمار وتجهیز ســیلوهای جدید و گدام های سیار وثابــت در سطح کـشور بـا نظـر داشــت نیازمندی.

۴- جلوگیری ازانتقال غیر مجــاز غله جات به خارج کشور.

۵- تقویه و تشویق بنیۀ مالی دهاقین وانکــشاف مارکیــت از طریـــق خریداری محصولات مازاد.

## اصطلاحات

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی دراین مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- غله جات : حبوبات یک مشیمه و دو مشیمه ئــی ماننــد گنــدم ، جو، جودر، جواری ، برنج ، باقلی ، لوبیا ، مشنگ ، ارزن و امثــا ل آن است که به منظور خوراک انسانی یـــا حیـــوانی مـــورد اســتفاده

نیول کیږي .

۲- احتیاطي زیرمې: د غله جاتو یا د ریښې لرونکو نباتاتو هغه مقدار دی چې د نابېره (غیر مترقبه) پیښو په حالاتو کې د زیانمنو د سملاسي اړتیاوو د لرې کولو په منظور په ګدامونو، سیلوګانو او زیرمو کې ساتل کیږي .

۳- خوراکي توکي : هغه حیواني ، نباتي او کاني محصولات دي چې دمغزي توکولرونکي وي او دانسان او حیوان دتغذیې وړ ګرځي .

۴- غذایي خوندیتوب: دکافي، مغزي، روغتیایي او دوامدارو خوړو تأمینول دي چې دکال په هر فصل او ډول ډول شرایطو کې هرچاته دلاس رسی وړ وي.

۵- نابېره (غیر مترقبه) حالت: هغه حالت دی چې په هغه کې د انساني او کرنیزو کروندو او حیواني فارمونو د ډله ایزې له منځه تلنې خطر محسوس وي .

---

قرار می گیرد.

۲- ذخایر احتیاطی : مقدار غله جات یا نباتات ریشه دار است که به منظور رفع نیازمندی های فوری متضررین حالات غیر مترقبه درگدام ها، سیلو ها یا ذخایر نگهداری می شود .

۳- مواد غذائی : محصولات حیوانی ، نباتی ومعدنی است که دارای مواد مغذی بوده ومورد تغذیهٔ انسان وحیوان قرار می گیرد .

۴- مصئونیت غذائی: تأ مین غذای کافی ، مغذی ، صحی و دوامدار است که درهر فصل سا ل وشرایط متنوع برای هرشخص قابل دسترس باشد .

۵- حالت غیر مترقبه : حالتی است که درآن خطر نابودی کتلوی انسانی و مزارع زراعتی وفارم های حیوانی محسوس باشد .

۶- ګدام : ټاکلی ځـــای دی چـــې دغله جاتو دساتنې په منظور دهماغه ډول غلې دخاصو شرایطو په لرونکي ستندرد جوړ شوی وي .

<u>کرنیزه سروې</u>

**څلورمه ماده :**

(۱) دکرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مکلف دی دغلـــه جـــاتو د تولیـــداتو د احـــصائیوي ارقـــامو د راټولولـــو پـــه منظـــور، کرنیـــزې سروې ګانې دپلان مطابق په منظمـــه توګه سرته ورسوي .

(۲) د غله جاتو د اړتیاوو تثبیتول د هېواد د نفوسو د ارقامو له په پام کې نیولو سره صـــورت مـــومي چـــې د احصائیې دمرکـــزي ادارې لخـــوا دکرنې، اوبولګولو اومالدارۍ وزارت په واک کې ورکول کیږي.

<u>د تطبیق مرجع</u>

**پنځمه ماده :**

د کرنې، اوبـــو لـــګولو اومالدارۍ

۶- گدام : محل معین است که به منظور نگهداری غلـــه جـــات بـــه ستندرد دارای شرایط خاص همـــان نوع غله ، ایجاد شده باشد.

<u>سروی زراعتی</u>

**مادۀ چهارم:**

(۱) وزارت زراعـــت آبیـــاری ومالداری مکلف است به منظـــور جمـــع آوری ارقـــام احـــصائیوی تولیدات غله جات ، سروی هـــای زراعتـــی را مطـــابق پـــلان طـــور منظم انجام دهد.

(۲) تثبیت نیازمندی های غله جات بانظرداشـــت ارقـــام نفـــوس کـــشور صـــورت مـــی گیـــرد کـــه ازطـــرف ادارۀ مرکـــزی احصائیه بدسترس وزارت زراعت ، آبیاری ومالداری گذاشته می شود.

<u>مرجع تطبیق</u>

**مادۀ پنجم :**

وزارت زراعت، آبیاری ومالـــداری

وزارت ددې مقـــررې دحکمونـــو دتطبیق بنسټیزه مرجع ده .

## دوه یم فصل

## داحتیاطي زیرمو جوړول او له هغو څخه ګټه اخستل

### د زیرمو جوړول

شپږمه ماده :

(۱) دکرنې ، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مکلف دی دغله جاتو د بیې له لوړیدو څخه دمخنیوي او د هېواد دننه مارکیټونو ته دهغـــو دوړانـــدې کولو په منظور لـــوئې زیرمـــې پـــه زونونو، منځنۍ زیرمې په ولایتونو او وړې زیرمې عندالضروت په ولسوالیو کې جوړې کړي .

(۲) د غله جاتو او ریښې لرونکـــو نباتاتو زېرمه کول دملي، سیمه ییزو او بین المللي معیارونو مطابق له اړتیا او د هغو د انقضاء له نېټې سره سم صورت مومي .

---

مرجع اساسی تطبیق احکـــام ایـــن مقرره می باشد.

## فصل دوم

## ایجاد ذخایر احتیاطی و استفاده از آن

### ایجاد ذخایر

مادۀ ششم:

(۱) وزارت زراعـــت، آبیـــاری ومالداری مکلف است به منظـــور جلوگیری ازصعود قیم غله جـــات وعرضۀ آن به مارکیت ها ی داخل کشور، ذخایر بزرگ را درزون ها ، ذخـــایر متوســـط را در ولایـــات و ذخایر کوچک را عندالـــضرورت در ولسوالی ها ایجاد نماید.

(۲) ذخیره کـــردن غلـــه جـــات ونباتات ریشه دار طبق معیار هـــای ملـــی، منطقـــوی وبـــین المللـــی مطابق ضرورت وتاریخ انقضاء آنها صورت می گیرد.

## له زیرمو څخه ګټه اخستل

اوومه ماده :

(۱) احتیاطي زیرمې په لاندې حالاتو کې ترګټې اخستنې لانــدې نیــول کیږي :

۱- د غله جاتو د بیې لوړېدل.

۲- نابېره (غیر مترقبه) حالات .

۳- دکرنیزو حاصلاتو کمښت .

۴- دکرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په تــشخیص نــور اړیــن موارد.

(۲) ددې مادې د(۱) فقرې په (۲) جزء کې په درج شوو حالاتو کې له احتیاطي زیرمو څخه ګټه اخستل، له پېښوسره دمبارزې ددولتــي عــالي کمېسیون دتصمیم پر بنسټ او پــه نورو حالاتو کې دکرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت پــه وړانــدیز د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، مالیې اود تجارت اوصنایعو له وزیرانو څخه جوړ کمېسیون په منظورۍ صــورت مومي.

## استفاده از ذخایر

مادۀ هفتم:

(۱) ذخایر احتیــاطی درحــالات ذیــل مــورد اســتفاده قــرار می گیرد:

۱- صعود قیم غله جات .

۲- حالات غیر مترقبه.

۳- کمبود حاصلات زراعتی.

۴- ســایر مــوارد ضــروری بــه تشخیص وزارت زراعت، آبیــاری ومالداری .

(۲) استفاده از ذخــایر احتیــاطی در حالــت منــدرج جــز(۲) فقــره (۱) ایــن مــاده بــه اساس تــصمیم کمیــسیون عــالی دولتــی مبــارزه بــا حــوادث و در سایر حالات بــه پیــشنهاد وزارت زراعت، آبیاری ومالــداری ومنظوری کمیــسیون مرکــب از وزرای زراعت ، آبیاری و مالداری، مالیه وتجارت وصــنایع صــورت می گیرد .

(۳) دکرنــــې ، اوبــــو لګولـــــو او مالـــــداری وزارت مکلـــــف دی، دګټـــه اخـــستل شـــوو زېرمـــو د بشپړو لو لپــاره لازم او پروخــت تدبیرونــه ونیــسي او عملــي يــې کړي .

**له زېرمو څخه دګټــې اخــستنې موده**

اتمه ماده :

(۱) دکرنې، اوبو لګولو او مالداری او عــامې روغتیــا وزارتونــه او د ســتندرد ملــي اداره مکلــف دي دغله جاتو له احتیاطي زیرمو څخه د ګټې اخستنې وخت، دهغو کمــي او کیفي شرایطو تــه پــه پــام ســره وټاکي .

(۲) دکرنــــې، اوبـــو لګولـــو او مالـــــداری وزارت مکلـــــف دی د غله جاتو لـــه احتیــاطي زېرمــو څخه د ګټې اخـــستنې لـــه وخـــت څخه د تیریدو دمخه لازم تدبیرونـــه ونیسي او عملي يې کړي .

---

(۳) وزارت زراعـــت، آبیـــاری ومالداری مکلـــف اســت تـــدابیر لازم و بـــه موقـــع را جهـــت اکمـــا ل ذخـــایر اســـتفاده شـــده ، اتخـــاذ وعملـــی نماید .

**میعـــــاد اســــتفاده از ذخایر**

مادۀ هشتم :

(۱) وزارت زراعـــت، آبیـــاری ومالداری، صـحت عامـه وادارۀ ملـــی ســـتندرد مکلـــف انـــد میعـــاد اســـتفاده از ذخـــایر احتیاطی غله جات را با نظرداشـــت شرایط کمـــی وکیفـــی آن تعیـــین نمایند.

(۲) وزارت زراعـــت، آبیـــاری ومالـــداری مکلـــف اســت قبـــل از سپری شـــدن میعـــاد اســـتفاده از ذخایر احتیـــاطی غلـــه جـــات، تـــدابیر لازم را اتخـــاذ وعملـــی نماید.

## د زېرمو تقدم اوتأخر

**نهمه ماده :**

دکرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مکلف دی له احتیاطي زېرمو څخه د ګټې اخستنې په وخت کې، د زېرمه شوو غله جاتو د تقدم او تأخر وخت په پام کې ونیسي.

## د زېرمو روغتیایي ساتنه

**لسمه ماده :**

دکرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت دعامې روغتیا وزارت په همکارۍ مکلف دي، د غله جاتو داحتیاطي زېرمو د روغتیایې اوسالمې ساتنې په منظور لازم تدبیرونه ونیسي او عملي یې کړي .

## د سیلوګانو بیارغول او ودانول

**یوولسمه ماده :**

دکرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مکلف دی دسیلوګانو او ګدامونو دبیارغونې او ودانولو په

## تقدم وتأخر ذخایر

**مادۀ نهم :**

وزارت زراعت، آبیاری ومالداری مکلف است حین استفاده از ذخایر احتیاطی زمان تقدم وتأخرغله جات ذخیره شده را مدنظر بگیرد.

## حفاظت صحی ذخایر

**مادۀ دهم :**

وزارت زراعت، آبیاری ومالداری باهمکاری وزارت صحت عامه مکلف اند به منظور حفاظت صحی وسالم ذخایر احتیاطی غله جات تدابیر لازم را اتخاذ وعملی نمایند.

## احیای مجدد واعمار سیلو ها

**مادۀ یازدهم :**

وزارت زراعت، آبیاری ومالداری مکلف است حین احیای مجدد و اعمار

وخت کې د خوندیتوب لازم تدبیرونه ونیسي او عملي یې کړي.

## دریم فصل

## دغله جاتو تدارک

**د مالي وجوهو تدارک**

**دوولسمه ماده :**

دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مکلف دی دپیرودلو لپاره هرکال لازم وجوه په اړونده بودجه کې اټکل کړي او د مالیې وزارت مکلف دی له کورنیو او بهرنیو سرچینو څخه دهغودتدارک په برخه کې همکاري وکړي.

**د غله جاتو تدارک**

**دیارلسمه ماده:**

دکرنې ، اوبولګولو اومالدارۍ وزارت مکلف دی د اړوندو ادارو په همکارۍ دعامه اړتیا وړ غله جات دهېواد له دننه اوبهر څخه دقانون دحکمونو مطابق برابر او تدارک کړی.

سیلوها وگدام ها تدابیر لازم ایمنی را اتخاذ وعملی نماید.

## فصل سوم

## تدارک غله جات

**تدارک وجوه مالی**

**مادۀ دوازدهم :**

وزارت زراعت، آبیاری ومالداری مکلف است جهت خریداری غله جات سالانه وجوه لازم را در بودجۀ مربوط پیشبینی نموده و وزارت مالیه مکلف است درقسمت تدارک آن از منابع داخلی وخارجی همکاری نماید.

**تدارک غله جات**

**مادۀ سیزدهم :**

وزارت زراعت ، آبیاری ومالداری مکلف است به همکاری ادارات مربوط غله جات مورد نیاز عامه را از داخل وخارج کشور طبق احکام قانون تهیه وتدارک نماید.

## څلورم فصل

## وروستني حکمونه

داحتیاطي زېرمودامنیت تأمینول

څوارلسمه ماده:

دکورنیوچارو وزارت مکلف دی، دغلودانو داحتیاطي زیرمو دساتنې او امنیت دتأمینولو په منظور لازم تدبیرونه ونیسي او عملي یې کړي.

دکړنلارو وضع کول

پنځه لسمه ماده:

دکرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت کولی شي ددې مقررې دښه تطبیق په منظورکړنلارې وضع او تطبیق کړي.

انفاذ

شپاړسمه ماده :

دغه مقرره په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذیږي.

## فصل چهارم

## احکام نهائی

تأمین امنیت ذخایر احتیاطی

مادۀچهاردهم:

وزارت اموراخله مکلف است به منظور حفاظت وتأمین امنیت ذخایراحتیاطی غله جات تدابیر لازم را اتخاذ وعملی نماید.

وضع طرزالعمل ها

مادۀ پانزدهم :

وزارت زراعت، آبیاری ومالداری می تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این مقرره طرزالعمل ها را وضع و تطبیق نماید.

انفاذ

مادۀ شانزدهم :

این مقرره از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می گردد.

## اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایـــــات :          (۹۰۰) افغـــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور:          (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

ISLAMICREPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

## Regulation on Precautionary Reserves of Cereals and Rooted Plants

**Date:17th OCTOBER .2009**
**ISSUE NO :(998)**